# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې ۱۷مه | د ۲۰۲۰ د جنوري اوومه | ۴۹۳یمه ګڼه


# صحرايي محکمې بندې کړئ؛

## وکيلان: شپني عمليات ودروئ، دا عام وژنه او صحرايي محکمه ده




۳

## ځېره

۴ مخ

### قاسم سليماني



د ایران مذهبي مشر ايت الله خامنه‌يي تېر کال نوموړي ته تر ټولو ستر پوځي نښان ذوالفقار ورکړ. خامنه‌يي قاسم سليماني (ژوندی شهيد) باله او تېر کال يې د نښان ور کولو پر مهال دوعا کړې وه، چې قاسم سليماني دې ډېر کلونه وروسته شهيد شي.

## کرنې رياست: روان کال په نيمروز کې ۱۱۰ شنې خونې جوړې شوې دي



کرنې او مالدارۍ وزارت ويلي چې روان کال د ډاکار موسسې په مرسته، په نيمروز کې ۱۱۰ شنې خونې جوړې شوې او نورې ډېرې پروژې ګټې اخيستنې ته سپارل شوې دي.

په ورته وخت کې د نيمروز د کرنې رياست چارواکو هم ويلي، چې له ډاکار موسسې سره يې په ګډه په ۱۳۹۸ لمريز کال کې د دغه ولايت په مرکز زرنج او دريو نورو ولسواليو کې لسګونه پروژې بشپړې کړې دي.

د ياد رياست د معلوماتو له مخې، په دغو پروژو کې ۵۶ باغونه، ۲۶ شنې خونې، د اوبو کوچني بندونه او کانالونه شامل دي.

د سرچينې په خبره، دغه پروژې په مرکز زرنج، چخانسور، چهاربرجک او نورو ولسواليو کې بشپړې شوې دي.

د نيمروز د کرنې رياست چارواکو دغه راز زياته کړې چې د ډاکار موسسې په مرسته، په پام کې لري چې راتلونکی کال د خپلو فعاليتونو لمن د دغه ولايت ټولو ولسواليو ته ورسوي.

### د کابل پر کوڅو او سړکونو د غلو واکمني

۲ مخ

### منطقوي سيالي؛ د سليماني د ژوند او مرګ بيه!

۲ مخ

### د شپې مېرمنې ځينې ځانګړنې

۳ مخ

## امريکايي رسنۍ: امريکا د نيويارک د ملي ګارد تازه دمي سرتېري افغانستان ته رالېږي

په داسې حال کې چې په قطر کې د امريکايي پلاوي او طالبانو خبرې هوکړې ته نږدې شوې، تازه امريکايي رسنيو راپور ورکړی چې د نيويارک د ملي ګارد ځينې سرتېري افغانستان ته د تلو لپاره چمتووالی نيسي.

سپوتنيک اژانس د اسوشيټيډ پرېس په حواله راپور کې ويلي، چې د نيويارک د ملي ګارد ۲۴ سرتېري د راتلونکې پنجشنبې په ورځ افغانستان ته تر تګ مخکې د يوې تمريني دورې لپاره په ټکزاس ايالت کې د فورت بلس نظامي اډې ته استول کېږي.

د راپورونو له مخې، دوی به تر يوې تمريني دورې وروسته افغانستان ته ولېږل شي. دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم ارمي ټايمز امريکايي رسنۍ راپور ورکړی و، چې امريکا افغانستان ته د ځينو سرتېرو د لېږلو تابيا لري. امريکا دا پرېکړه په داسې حال کې کوي چې طالبانو په وار وار ګواښ کړی چې تر هغې چې امريکايي سرتېري په افغانستان کې مېشت وي، دوی به يې پر وړاندې خپلې جګړې ته دوام ورکړي. په ورته وخت کې د سولې له مذاکراتو باخبره سرچينې وايي چې د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي په قطر کې له ملا عبدالغني برادر سره غير رسمي ناسته کړې، خو امريکا دا ځل د مذاکراتو بيا پيل د تاوتريخوالي پر کمېدو پورې مشروط کړی دی.

طالبانو ته نږدې کسان وايي، چې د طالبانو د مذاکراتي پلاوي غړي د تاوتريخوالي د کمېدو په تړاو د خپل مشرتابه پرېکړې ته په تمه دي.

پخواني طالب چارواکي وايي، طالبان ځکه د سولې له تړون وړاندې له اوربنده انکار کوي چې ممکن د اوربند پر مهال د سولې مخالفې کړۍ بريدونه وکړي او په دې ډول د طالبانو باور ته زيان ورسېږي.

## د جنايي جرمونو د مخنيوي لپاره جوړ شوي پروګرامونه دي ژر تر ژره بيا وکتل شي



۳ مخ

## وزارت انرژی و آب: فعالیت‌های پروژه کاسا- ۱۰۰۰به‌زودی آغاز می‌شود



فعالیت‌های ساخت خط انتقال برق آسیای میانه به پاکستان از طریق افغانستان موسوم به پروژه کاسا-۱۰۰۰ به زودی آغاز می‌شود. سیر نیکزاد، سخنگوی وزارت انرژی و آب افغانستان به رادیو آزادی گفته است که این بخش شامل کندنکاری تهداب‌ها، نصب پایه‌های برق و انتقال تجهیزات می‌شود.

او افزوده است: «فعالیت‌های ساختمانی پروژه کاسا- ۱۰۰۰ حدود سه سال را در بر می‌گیرد و بعد از پایان کار هر چهار کشور این لین را به بهره برداری می‌سپارند. ما خوشبین هستیم که با توجه به پیشرفت‌هایی که داریم، در زمان معین خود این پروژه به پایه اکمال برسد».

آقای نیکزاد همچنین گفته است که کار بررسی مقدماتی و نقشه مسیر خط انتقال انرژی برق تکمیل شده و تهیه تجهیزات آن در حال تکمیل شدن است.

او افزوده است که انتقال تجهیزات به محلات و ماین‌روبی مسیر این پروژه و روند تثبیت ملکیت زمین مسیر پروژه کاسا-۱۰۰۰ در حال تکمیل شدن است. به گفته سخنگوی وزارت انرژی و آب، ناامنی از چالش‌های عمده‌ای است که کار این پروژه را به‌کندی مواجه می‌سازد. کاسا- ۱۰۰۰ پروژه انتقال هزار و ۳۰۰ مگاوات برق آبی از قرغیزستان و تاجکستان از طریق افغانستان به پاکستان است. قرار است از آن جمله هزار مگاوات برق به پاکستان منتقل خواهد شد و ۳۰۰ مگاوات دیگر در ولایت‌های میدان‌وردک، غزنی، زابل، لوگر و پکتیای افغانستان توزیع خواهد شد. کار این پروژه در ماه می ۲۰۱۶ رسماً افتتاح شد. کارشناسان می‌گویند که این پروژه برای تاجکستان و افغانستان پرسود است.




Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a book to your life

دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریځ

### د کابل پر کوڅو او سړکونو د غلو واکمني

په دې ورځو کې په کابل کې هر سړی له غلاوو او شوکو شکایت کوي. هره ورځ له دوستانو او خپلوانو څخه اورو چې غلو وهلي، موبایل، پیسې، موټر او نور توکي یې ترې وړي دي. تازه په کابل کې د غلو له خوا د څو کسانو د وژنې خبرونه هم خپاره شوي دي. پولیس د تل په څېر د پېښو د مخنیوي ژمنې کوي، خو غلاوې همداسې زیاتېږي.
په کابل کې غلاوې او شوکې بیخي عامې شوې دي. پر عمومي سړک، په موټر کې، په عمومي او فرعي کوڅو کې، د جومات په دروازه او هر ځای کې خلک له غلو سره مخ کېږي، لوټل کېږي، وهل کېږي او آن وژل کېږي. خبره یوازې د کوڅو او پس کوڅو نه ده، د پولیسو د پوستو او حوزو په څنګ کې غلاوې کېږي او خلک لوټل کېږي. پخوا به خلکو د شپې له خوا ځان ساته، ځکه چې غلاوې به ډېرې ناوخته او یا هم د شپې له خوا کېدلې، خو اوس د ورځې په هر وخت کې، سهار، غرمه او مازیګر غلاوې کېږي.
اوس خلک له وېرې یا موبایلونه او پیسې نه ګرځوي او یا هم په سختۍ له کورونو وځي، آن داسې هم شوي چې که له چا سره ټلیفون یا پیسې نه وي، نو غلو له دې امله وهلي ډبولي چې ولې پیسې او موبایلونه نه ګرځوي. د کابل پر کوڅو او سړکونو اوس په واقعي مانا د غلو واکمني ده، داسې لکه حکومت چې د دوی واکمني په رسمیت پېژندلې وي او سړکونه او کوڅې یې همدوی ته ور پرې ایښې وي. اوس په کابل کې داسې حالت دی، لکه پولیس چې یوازې د دولتي ودانیو د ساتنې مسوول وي او له دولتي ودانیو د باندې ساحه یې یو مخ غلو ته پرې ایښې وي.
خلک پولیس پړه بولي، په ځینو پېښو او ځایونو کې پولیس له غلو سره پر همکارۍ تورنېږي. داسې ډېرې پېښې شوې دي چې خلکو غله نیولي، پولیسو ته یې سپارلي، خو وروسته پولیسو نیول شوي غله بېرته خوشي کړي دي. له همدې امله خلک ځینې پولیس چارواکي په پېښو کې شریک ګڼي. که د شراکت په اړه ډېر اسناد او شواهد نه وي، خو پولیس له بده مرغه د دغو پېښو پر وړاندې بې تفاوته دي. د مخنیوي لپاره یې نه کوم پلان او پروګرام لري او نه هم اراده. له همدې امله غلاوې او شوکې ورځ تر بلې زیاتېږي.
اوس د کورنیو چارو وزارت وایي، ژر به پراخ اصلاحات راولي او حالت به بدل شي. دوی بیا د یوې نوې تګلارې خبرې کوي چې په خبره یې بشپړه شوې او عملي به شي، خو خلک ډېر ډاډه نه دي چې حالت به ښه شي. تر هغو چې په پولیسو کې ژور بدلونه را نه وړل شي، تر هغو چې د کابل د حوزو چارواکي د قوانینو پر اساس ونه ټاکل شي او تر هغو چې دوی خلکو ته ځواب ویونکي نه وي، همدا غلاوې او شوکې به دوام کوي او ورځ تر بلې به زیاتېږي. خلک د حکومت له خوا نور د تشو ژمنو پر ځای قوي اراده او عملي ګامونه غواړي، څو د غلو دا واکمني ختمه شي.

# منطقوي سیالي؛

## د سلیماني د ژوند او مرګ بیه!

لیکنه: وحیدالله مصلح

ایران په سیمه کې د ایډیالوژۍ، هویت او جغرافیې جګړه کوي، د منطقې د شیعه هلال داعیه لري، په دې هلال کې سوریه، عراق، لبنان، ایران، پاکستان او د افغانستان، سعودي او ترکیې ځینې سیمې شاملې دي، ایران د همدې جغرافیایي او سیاسي هلال په تطبیقي اډانه کې د څو اکثریت لرونکو سني عربي هېوادونو واګې او پلازمېنې ولکه کړې، صنعا، دمشق، بغداد او بیروت د دوی د منطقوي پراختیا پراخېدونکې پولې دي، منځنۍ اسیا او افغانستان هم د دې پراختیا غوښتونکې اجنډا محوري برخې دي.
د منځنۍ اسیا هېوادونه په ځانګړې ډول له تاجکستان سره له دې چې یو مستبد سیکولار نظام په کې بې دادي کوي، خو د ایران د فرهنګي او ایډیالوژیکي پراختیا پر وړاندې محکم درېدلی او حتی د ایرانیو ترمینالوژیو په مقابل کې یې تاجیکي ژبه او لهجه حتمي کړې ده.
افغانستان د دې پراختیا غوښتنې یو مظلومه جغرافیه ده، دلته دوی له ټلوېزیونونو، ورځپاڼو راډیوګانو، ستراتیژیکو مرکزونو، پوهنتونونو، مدرسو، پارلماني استازو، زورواکانو او سیاسي او مذهبي ګوندونو نیولې (په تېر کې) د ارګ تر تورو کڅوړو ریښې غځولې.
فاطمیون نه یوازې په سوریه کې د شیعه او سني شخړو په فتنو کې د ایران د سپاه قدس په اډانه کې د افغانستان د شیعه وسله واله جګړه ماره ډله ده؛ بلکې دا ډله په راتلونکي کې د افغانستان د هویتي مغلوبیت په پلانونې کې ستراتیژیک ارزښت لري.

**ایران؛ د منطقې بې سیاله ځواک!**

ایران په سیمه کې په داسې حال کې د هویتي او ایډیالوژیکي جګړې بلندویي کوي، چې په مقابل کې یې په قاطع اکثریت سني هېوادونو کې پر مذهب نه ولاړ سکولار او مستبد حکومتونه او سکولار شاهي کورنۍ له خپلو ملتونو سره پر مغلوبو جنګونو اخته دي. ایران د خپلې نړیوالې اجنډا په مقابل کې اصلاً کوم هویتي او ایډیالوژیک سني مد نه لري.
د عربي هېوادونو او افغانستان په امریکایي جګړه کې امریکا په لویو قضیو کې له ایران سره د پردې تر شا توافقات کړي او د دې جګړو لویې معاملې یې ورسره لرلې. همغه بن کې چې امریکا د افغانستان لپاره حکومت جوړولو، همدلته زلمي خلیلزاد له جواد ظریف سره چې هغه مهال د بهرنیو چارو وزارت لوړپوړی چارواکی و، د جګړې پر موضوعاتو خبرې اترې او هوکړې کړې وې، د خلیلزاد کتاب «استازی» دا کیسه په لړ څه تفصیل یاده کړې ده.

**سلیماني او د دې هویتي جګړې ګټل**

قاسم سلیماني له نوي یمې لسیزې له ایران څخه بهر د ایران او شیعه هلال د منافعو او پراختیا جګړه کړې، کله چې په عراق کې امریکا ښکېل شوه، د دې جګړې تر ټولو لوی ګټونکی ایران و. قاسم سلیماني چې د عراق او ایران په جګړه کې یې اثارالله جبهې مشري کوله، نو د بغداد په امریکایي سقوط سره یې د صدام د جنګ عقدې راوسپړلې او تر ننه هلته سني عربان د دې عقدو په بیه کې ټسېږي.
ایران په داسې هېوادونو کې د خپل هلال د تطبیق جنګ کوي چې هلته اکثریت سنیان دي، د دې جنګ ګټل په دغسې هویتي لوی تفاوت کې اصلاً غیر طبیعي دي، سمه ده چې سني ملتونه به د دې جګړې مغلوب لوري وي، خو ایران هم د دې جنګ غالب او ګټونکی نه دی، په همدې عراق کې چې سني خط یې د عرب او کرد په وېش کې پر اقلیت اړولی، هلته چې شیعه په کې فقط شیعه دي، خو سنیان په کې کردان او عربان دي، همدلته د ایران د دغسې تسلط په مقابل کې د عراق د ولسونو ملي اراده راسپړل شوې او دا څو اونۍ کېږي چې د ایران د مداخلو پر ضد راپاڅېدلي، دا په دې مانا چې دا جګړه په دې ډول دا هلال نه شي ګټلی.

**د ایران متوقع غبرګونونه**

د سیمې په دغسې پراختیا غوښتونکې جګړه کې چې د مقابلې په بل لوري کې یې صدام وژل کېږي، عبدالله صالح وژل کېږي، بسته حکومتونه په کې ړنګېږي، ملتونه په کې غرقېږي او هویتونه په کې بدلېږي، ایران باید د قاسم سلیماني وژنې ته ذهناً اماده وي.
د سلیماني وژنه ښايي د ایران حکومت وارخطا نه کړي، کله چې د ایران مذهبي مشر خامنه یې سلیماني ته د هغه پر ژوندانه ژوندی شهید وایه، دا په دې مانا چې ایران په ذهني ډول د دومره لویې جګړې او سترې داعیې په سلسله کې دغسې تاوانونو ته اماده و.
ایران ښايي داسې احساساتي او جذباتي عملي قدم وانه خلي، چې په سیمه کې پر نړیوالې جګړې منجر شي. ایران پر دې پوهېږي چې امریکا دغسې منطقوي قدرتونه لکه د بغداد ډېر ژر راپرځولی شي، د قدرتونو پر دغسې پرتله ایران تر بل هر هېواد ښه پوهېږي.
ایران به د قاسم سلیماني کسات داسې وانه خلي چې د ایران انقلاب او مذهبي واکمني په کې په داو کېښودل شي، هغوی چې ښايي پر یوځه ډېر تمرکز وکړي، هغه به دا وي چې امریکا پر دولتي ترهګرۍ متهمه کړي او په دې اړه د روسیې او خپلو خواخوږو هېوادونو حمایه تر لاسه کړي او د امریکا په مقابل کې به قوي ډیپلوماسي غوره کړي، د دې تبلیغاتو تر څنګ به د خپلو نفوذ لرونکو هېوادونو په قلمرو کې احتجاجونه پلان کړي، په عراق کې به شیعه ځواکونه متحرک او بسیج کړي، کېدلی شي ځینې محدود هدفونه هم ولري، خو ډېر امکان لري چې دغسې اهداف د ایران تر سرپرستۍ لاندې شیعه وسله والې ډلې په نښه کړي. دا هدفونه شاید هغومره پارووونکي نه وي چې د کابل لپاره د آی اس آی د مشهورې ستراتیژۍ په ژبه اوبه وخوټېږي او توی شي.

**د افغانستان لپاره څه پکار دي؟**

د منطقې جنګ په هېڅ صورت د افغانانو په ګټه نه دی، هغه جګړه چې ایران او امریکا په کې سیالي کوي، د عراق او نورې عربي نړۍ تر څنګ یې مونږ هم پر بټ ټسولي یو. دا جنګ که منطقوي یا نړیوال کېږي، بیا به یې هم مونږ تر نورو ډېر قرباني یو.
افغانستان باید د دې جنګ د درېدلو په محور کې وي، افغانستان باید نه د امریکا د منطقوي جنګي ستراتیژۍ او نه د ایران د هویتي او دا مهال انتقامي جګړې ملګری شي. افغانستان باید له خپله اړخه د دربیمګړې او بې پرې موقف غوره او وساتي.
په تاریخي لحاظ زمونږ د وطن سنیان او شیعه ګان په تسامح، انعطاف او ورورولۍ کې پاتې شوي، د ګډ ژوند دا تاریخي امتداد باید د بیرونیو سیالیو قرباني نه شي. له همدې امله افغانستان باید په اوږدمهال کې په افغانستان کې د فرقه‌یي او مذهبي لاسوهنو او شخړو په مقابل کې د عدم انعطاف او پرېکون ستراتیژي غوره کړي، افغانستان باید د فاطمیون لوا پر وړاندې موقف ونیسي او د افغانستان د راتلونکي هویتي بدلون دغه مقدمه همدلته وتړي.
د سعودي او ایران جګړه باید زمونږ وطن ته پرې نښودل شي، سره له دې چې په افغانستان کې سعودي منفعل وجود لري، خو په منطقوي سیالیو کې له ایران سره په شخړه کې اخته دی، سره له دې چې سعودي په دې سیالۍ کې د پیاوړي ایران سیال نه دی، خو د امریکا او ایران په هر تقابل کې د امریکا څېېړه او ګوزار خپل ګوزار بولي او خپلو خلکو ته ځان د ایران د مذهبي پراختیا غوښتنې مقابل سیال معرفي کوي، خو خلک پوهېږي چې له امریکا پرته سعودي د ایران د پېټکو تاب نه لري.
د ایران او سعودي شخړې د اسلام د وېشلو او زیان شخړې دي او دوی په کې د خپلو ګټو منداڼو وهي. سعودي او ایران له مذهبي سیالیو څخه خپله برخه ګټه وړي او د دې شخړو بیه مسلمان ملتونه پرې کوي، هغه یمنیان چې د سعودي په بمونو وژل کېږي او هغه عراقیان او سوریان چې د ایران په ډزو او جګړو کې وژل کېږي، دوی ټول د همدې شیعه او سني جنګي فتنې قربانیان دي. له همدې امله که دا شخړې زمونږ وطن ته راځي، نو مانا دا چې زمونږ ملت به تر بلې پېړۍ د شیعه او سني فساداتو قرباني وي. نو د دې جنګ د مخنیوي لپاره باید زمونږ د وطن پالیسي جوړوونکي په خورا دقت پاملرنه وکړي او پر وړاندې یې غوڅ ملي تصمیمونه ونیسي.

## بلخي: په پوهنې وزارت کې به پراخ اصلاحات رامنځ ته شي

پوهنې وزارت وایي، د هېواد پوهنیز نظام به له سیاسته لرې وساتي او دغه راز به په یاد بنسټ کې پراخ مسلکي اصلاحات رامنځ ته شي.
په دغو اصلاحاتو کې د پوهنې اداري تشکیلات، تعلیمي نصاب، د مسلکي کادرونو روزل، ګومارل او د چارو تخنیکي کول شامل دي.
د اصلاحاتو د طرحې جوړولو په موخه، پوهنې وزارت تېره ورځ د کابل او ولایتونو د پوهنې د مسوولینو په ګډون، یو سمپوزیم جوړ کړی و، څو د ګډونوالو نظریات راټول کړي.
د پوهنې وزیر میرویس بلخي ویلي چې د هېواد پوهنیز نظام تېرې څلور لسیزې د سیاستونو تر اغېز لاندې و او دا چلند باید په بشپړ ډول پای ته ورسېږي.
هغه زیاته کړې چې د دغو اصلاحاتو د سند



جوړولو لپاره تصمیم لرو چې د پوهنې د متخصصینو او مسوولو کارکوونکو نظریات راټول او پلي کولو ته یې تدابیر ونیسو.
هغه زیاته کړې: «د ښوونې او روزنې په بېلابېلو حوزو کې به داسې یو جامع او بنیادي سند جوړکړو، چې د یوه لارښود په توګه د پوهنې کورنۍ ته ورکړل شي او عملي شي، له دې سره به له یو نامطلوب وضعیت نه مطلوب وضعیت ته ورسېږو».
د دغه وزارت د مسوولینو په خبره، د پوهنې په نظام کې دغه اصلاحات ښایي وخت ونیسي، خو پایله به یې ګټوره او تلپاتې وي.
د وزارت مسوولینو دا هم ویلي چې دغه اصلاحات د یاد وزارت د لس کلن ستراتېژیک پلان یوه برخه ده چې کار پرې روان دی.
په یاد سمپوزیم کې د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو رییس نادر نادري چې اداره یې د دغه وزارت د استخدام په چارو کې په مستقیمه توګه ښکېل ده، ویلي چې د پوهنې د نظام د اصلاحاتو لپاره اړینه ده چې پر اداري تشکیلاتو یې بیا کتنه وشي.
هغه ویلي: «مرکز او ولایتونه له اداري پلوه په ځینو برخو کې تشکیلاتي پړسوب لري، په تشکیلاتو کې په سلو کې ۲۷ اداري برخه ده. دې برخې ته باید بیا کتنه وشي. په دې دلیل ځینې اداري امکان لري چې له منځه لاړې شي».
پوهنې وزارت په داسې حال کې په پوهنیز نظام کې د هر اړخیزو اصلاحاتو د راوستو خبرې کوي، چې د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، همدا اوس د هېواد نږدې ۵۰ سلنه ښوونځي ودانۍ نه لري، ښوونځي د مسلکي ښوونکو له کموالي سره مخ دي او شاوخوا ۳.۷ میلیونه ماشومان له زده کړو بې برخې دي.

# صحرايي محکمې بندې کړئ؛

## وکیلان: شپني عملیات ودروئ، دا عام وژنه او صحرايي محکمه ده



سره له دې چې د ژمي موسم په را رسېدو سره د ځانګړو ځواکونو شپني عملیات یو څه کم شوي دي، خو بیا هم دغه ځواکونه په ځینو سیمو کې د عامو وګړو پر کورونو عملیات کوي، چې سخت غبرګونونه یې پارولي دي. د ولسي جرګې غړو هم پرون پر دې موضوع خبرې وکړې او له حکومته یې د دغو عملیاتو په اړه د پلټنو غوښتنه وکړه. وکیلان وايي چې ځانګړو ځواکونو په وروستیو ورځو کې په لغمان او کابل کې شپني عملیات تر سره کړي، چې عامو وګړو ته یې پکې مرګ ژوبله اړولې ده.

ورمه شپه د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو د کابل ښار د خیر خانې سیمې په دویمه حصه کې شپني عملیات کړي دي. په دې عملیاتو کې یې د یوه پخواني جهادي قوماندان آمر ستار او د هغه د زوی په ګډون، پنځه کسه وژلي دي. د آمر ستار د کورنۍ نږدې غړي او د پېښې عیني شاهدان وايي چې ځانګړو ځواکونو د دوی په کور کې سخت وحشت خپور کړ او دوه کسه یې له ځان سره بېولي هم دي. د دوی په خبره، د افغان ځواکونو دغه کړنه غیر قانوني ده، ځکه دوی د داسې کس پر کور شپني او خونړي عملیات کړي، چې د حکومت تر ځنګ ولاړ و او په غوربند کې بانفوذه قومي مشر و. د آمر ستار یوه زوی هم له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې پلار یې بې ګناه و او په خبره یې که یې کوم جرم لرلی، نو حکومت هغه له قانوني لارو نیولی او بیا بېولی شوای. آمر ستار په غوربند دره کې د جمعیت ګوند پخوانی قوماندان و، چې اوسمهال یې په ټاکنیزو منډو ترړو کې د ولسمشر غني په مشرۍ د دولت ساز ټیم ملاتړ کاوه.

بلخوا په ولسي جرګه کې پر همدې مسئله وکیلانو خبرې وکړې او له حکومته یې وغوښتل چې دغه پېښې وڅېړي. د ولسي جرګې رییس او د دې جرګې ځینې غړي وايي، د لغمان مرکز مهترلام ښار اړوند کتب خېلو سیمه کې ځانګړو ځواکونو پر یو کور چاپه وهلې، چې یو سپین ږیری یې وژلی او د هغه څلور زامن یې بندیان کړي دي او دا ډول د کابل خیرخانې په سیمه کې د ملي امنیت ځواکونو یو پخوانی جهادي قوماندان آمر ستار، د هغه زوی او د کور د خاوند په ګډون، پنځه کسه وژلي دي.

بلخوا د ولسي جرګې ځینې غړي د امنیتي ځواکونو دغه ډول کړنې صحرايي محکمې بولي. د ولسي جرګې غړی ګل الرحمن همدرد وايي: «صحرايي محکمې دې بندې کړل شي، حکومت دې د قانون مطابق مجرمین یا تورن کسان نیسي، محاکمو او قانون ته یې دې سپاري، دوی یې مجازات کوي».

وکیلان دا د افغان امنیتي ځواکونو له لوري د ملکي وګړو وژل لومړنۍ پېښه نه بولي او په خبره یې، د دغو کړنو مخه باید ونیول شي، ځکه حکومت ولس ته مسوول دی او باید ځواب ووايي. د ولسي جرګې غړی ذبیح الله عتیق وايي: «دا لومړی ځل نه دی چې ملي امنیت داسې کوي، په دې کې د حکومت بې پلاني او ناتواني هم شامله ده. تر دې مخکې یې هم ملکیان وژلي، په یاد مو دي په ننګرهار کې یې څلور وروران په یوه ځای ووژل».

د ولسي جرګې یو بل غړی پرویز عرب زاده بیا وايي چې په لغمان کې هم ۰۲ قطعې یو ملکي وګړی په دغه ولایت کې د عملیاتو پر مهال وژلی او د وژل شوي کس د کورنۍ څلور غړي یې له ځان سره بېولي دي. هغه ویلي: «ما له والي سره خبرې وکړې، چې دا خو بې ګناه بزګر دی، دې څه کړي دي؟ هغه له دې پېښې هېڅ خبر نه و».

د ولسي جرګې رییس هم دغه پېښه وغندله او اړوند کمېسیون ته یې دنده وسپارله، چې دغه مسئله په هر اړخیزه توګه وڅېړي. میر رحمان رحماني وویل: «دا پېښه باید وڅېړل شي، آمر ستار د تېښتې سړی نه و، که یې کوم جرم لرلی، حکومت نیولی شوای».

د ولسي جرګې غړو داسې مهال د افغان ځواکونو پر شپنیو عملیاتو غبرګون ښودلی، چې تر دې وړاندې هم مدني فعالانو، د ټولنیزو رسنیو کاروونکو، سیاستوالو او رسنیو پر دغه عملیاتو نیوکې کړې دي او له حکومته یې د ورته خونړیو عملیاتو پر ځای، د عامو وګړو د ساتنې او د دوی د امنیت د تامین غوښتنه کړې ده.

## دانش: د جنايي جرمونو د مخنیوي لپاره جوړ شوي پروګرامونه دې ژر تر ژره بیا وکتل شي

د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش امنیتي ارګانونو ته امر کړی چې د جنايي جرمونو د مخنیوي لپاره جوړ شوي پروګرامونه دې ژر تر ژره بیا وکتل شي.

د نوموړي له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې دانش دغه مطلب له امنیتي مسوولینو سره په یوه ناسته کې شریک کړی دی.

خبرپاڼه زیاتوي، په دې ناسته کې چې د ملي امنیت مرستیال علي احمد اصغري او د کابل امنیه قوماندان سید محمد روشندل هم ګډون درلود، ناامنۍ، وسله والې غلاوې او د کابل په لوېدیځ کې د جنايي جرمونو د زیاتېدو ستونزې ارزول شوې او په ټول کابل په ځانګړې توګه د کابل په لوېدیځ کې جنايي جرمونه، لار شکونې او د وسله والو غلاوو زیاتېدل د اندېښنې وړبلل شوي دي.



د ولسمشر دویم مرستیال په دې ناسته کې امنیتي مسوولینو ته امر کړی، چې له جرمونو سره د مقابلې لپاره دې ژر تر ژره په کشفي پروګرامونو کې د امنیت د ټینګښت او له جنايي جرمونو سره د مبارزې لپاره مخکینیو تدابیرو ته بیاکتنه وکړي.

دانش په داسې حال کې چې د پولیسو او امنیتي حوزو لومړنۍ دنده یې د خلکو د امنیت ساتل بللې، ویلي چې د خلکو د امنیت ساتنې او د جنايي جرمونو د مخنیوي په تړاو د کابل ښاریانو غوښتنو ته د رسېدو په برخه کې هر ډول غفلت او ناغېړي د منلو وړ نه ده.

نوموړي دې ته په اشارې چې د جرمونو ګراف صعودي دی، ویلي: «مسوولې ادارې د کابل ښاریانو د امنیت ساتنې لپاره مکلفې دي چې د امنیتي حوزو د امرینو د اجرااتو بهیر، وړ او دندې ته د ژمنو کسانو ګومارنې، تقویې او د امنیتي حوزو د نظامي پرسونل د مجهز کولو دقیق نظارت وکړي او د اړتیا پر مهال دې ورته بیاکتنه وکړي».

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په کابل ښار کې د جنايي جرمونو کچه زیاته شوې ده.

## شکایتونو کمېسیون: د ټاکنیزو شکایتونو ولایتي چارواکو د ټاکنو کمېسیون سیسټم ته لاسرسی وموند

د ټاکنیزو شکایتونو ولایتي کمېسیونونو مسوولینو ته هم د اړوند ولایت د ټاکنو خپلواک کمېسیون معلوماتي سیسټم ته لاسرسی ورکړل شو.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون چارواکو ویلي، له څو ځلي غوښتنې وروسته د دوی همکارانو دغه اجازه تر لاسه کړه او اوس کولی شي د ولایتونو ټاکنیز معلومات هم وګوري.

د دغه کمېسیون کمېشنر سید قطب الدین رویدار ویلي، د ځینو شکایتونو د څېړلو لپاره اړتیا وه چې د ټاکنیزو شکایتونو د ولایتي دفترونو مسوولین دغو معلوماتو ته لاسرسی ولري.

نوموړي دغه راز په ولایتونو کې د شکایتونو څېړنې ته په اشارې ویلي، چې په پنځو ولایتونو کې د دوی کار مخ په بشپړېدو دی.

رویدار که څه هم په دغو پنځو ولایتونو کې د پرېکړو په اړه څه نه دي ویلي، خو زیاته کړې یې ده، هغوی چې د دې پرېکړو په اړه نیوکه لري، کولای شي چې د استیناف غوښتنه وکړي.



په ورته وخت کې پر ټاکنو څارونکې بنسټونه بیا وايي چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ولایتي دفترونو ته د ټاکنو خپلواک کمېسیون له خوا ولایتي یوزرونو ته لاسرسی به د شکایتونو د څېړلو په برخه کې ډېره مرسته وکړي.


د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ اجرایه رییس یوسف رشید ویلي، په دغه کار سره ولایتي کمېسیونونه کولای شي چې شکایتونو ته په کتو سیسټم هم وڅېړي. رشید زیاته کړې: «دا کار به مرسته وکړي چې ولایتي کمېسیونونه کره معلوماتو ته لاسرسی پیدا کړي، د همدې محاسبې له مخې، شکایتونو ته رسېدنه وکړي او همدا ډول له قضایاوو سره تخصصي چلند وکړي.

همدا ډول هغه عیبونه چې په دې برخه کې معلوماتو ته د نه لاسرسي په برخه کې موجود وو، له منځه ځي».

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنیزوشکایتونوکمېسیون اوسمهال د هغو ۶۵ سلنه شکایتونو پر څېړلو بوخت دی، چې د دغه کمېسیون په خبره، مستند دي.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي، د شکایتونو څېړنه به د رایو پر برخلیک اغېز ولري، خو دا نه روښانوي چې دا اغېز به تر کومې کچې وي.

## ټرمپ: که بغداد له خپلې خاورې امریکايي پوځیان وباسي، له سختو بندیزونو سره به مخ شي



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ عراق ته خبرداری ورکړی چې که امریکايي ځواکونه له خپلې خاورې وباسي، سخت بندیزونه به پرې ولګوي.

ټرمپ دغه راز یوځل بیا ایران ته هم ګواښ کړی چې که د قدس ځواکونو د قوماندان قاسم سلیماني د وژلو د غچ اخیستو لپاره ایران پر امریکايي اهدافو برید وکړي، تاریخي ځایونه به یې د حملې لپاره په نښه کړي.

ټرمپ دا خبرداری وروسته له هغې ورکړی چې د عراق پارلمان ورمه ورځ د یوه پرېکړه لیک په صادرولو سره له عراقه د امریکايي ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه. دغه پرېکړه لیک د عراق له حکومته غواړي چې دې ته په پام سره چې په دغه هېواد کې د اسلامي دولت ډلې یا داعش پر وړاندې مبارزه بریالۍ شوې او نور عملیات پای ته رسېدلي، له نړیوالو ځواکونو د مرستې غوښتنه دې بېرته واخلي.

د دغه پرېکړه لیک له مخې، د عراق د لومړي وزیر عادل عبدالمهدي حکومت باید په عراق کې د ټولو بهرنیو پوځیانو حضور پای ته ورسوي او هم دغه ځواکونه له دې منعه کړي، چې د دغه هېواد له خاورې، هوايي قلمر او اوبو څخه په هر دلیل چې وي، نور کار واخلي.

په ورته وخت کې ټرمپ ویلي چې د ایران د قدس ځواک د پخواني قوماندان قاسم سلیماني د وژلو په خاطر که بغداد له عراقه د امریکايي ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړي، موږ به تر هغې ونه وځو چې د پوځي لویې هوايي اډې لپاره چې په دغه هېواد کې مو جوړه کړې، موږ ته پیسې رانه کړي.

ټرمپ دغه راز خبریالانو ته ویلي: «پر دې اډې موږ ډېرې پیسې لګولې، دا په عراق کې زموږ یوه ډېره مهمه اډه ده. د دې اډې پر جوړولو موږ میلیاردونه ډالر لګولي دي».

د راپورونو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه اوسمهال په عراق کې شاوخوا پنځه زره پوځیان لري، چې ډېری یې پوځي سلاکاران دي.

ولسمشر ټرمپ د قاسم سلیماني تر وژل کېدو وروسته، د ایراني مشرانو مخ په زیاتېدونکو غچ اخیستونکو ګواښونو ته په اشارې بیا مخکینی خبرداری تکرار کړی او ژمنه یې کړې چې د ایران پر تاریخي ځایونو به بریدونه وکړي او د ایران هرې حملې ته به سخت ځواب ورکړي.

ټرمپ په دې اړه چې که د ایران پر تاریخي ځایونو حمله وشي، هغه به د نړیوال قانون له مخې جنګي جنایت وګڼل شي، د خپلې ادارې د ننه اندېښنې له پامه وغورځولې او ویې ویل چې که ایران حمله وکړي، دی به دا کار وکړي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**خلورمه برخه**

**پایله**

**یوولسم څپرکی**




طالبان د راپورته کېدو له وخته، (۱۹۹۰ز کال) څخه بیا تر اوسه ډېر بدل شوي. تحریک له هېواده بهر مېشت دی او له راډیکالو اېډیولوژیو سره هم مخ کېږي. هغوی اړ شوي افغانانو ته د خپلو موخو رسولو لپاره له رسنیو کار واخلي. طالب مشرانویني چې د افغانستان اقتصاد په نړیواله ټولنه پورې تړلی. ډېری افغانان اوس یوازې د عدالت پر ژمنو باور نه کوي. دوی غواړي ژوند یې پر عمل بدل شي او حکومت یې پر وړاندې ځواب ویونکی وي. دا هغه څه دي چې طالبان یې په یوازې ځان نشي ترسره کوی. د ۲۰۱۲ز کال په پای کې طالبانو د خپل دریځ د نرموالی په تړاو اعلامیه خپره کړه، هغوی جوته کړه چې جنگیالي به یې پر ښوونکو او د روغتیا پر کارکوونکو هېڅکله برید نه کوي. هغوی دا هم اعلان کړه چې د ریاضي او ساینس مضمونونه له تدریس سره هېڅ ستونزه نه لري.

طالبانو له خپل یوازې او اساسي بهرني ملگري، پاکستان سره د شرایطو د بدلېدو پر مټ بدلون راوستی و. پر دې سربېره چې پاکستان طالبانو ته په خپل هېواد کې خوندي ځایونه ورکړي، ډېری کندهاري طالبان د اسلاماباد پر اراده شکمن شوي. څنگه چې په ۱۹۸۰ز لسیزه کې افغان مجاهدینو د پاکستان مخالفت پیل کړ، په هماغه بڼه به طالبان افغانستان ته له ستنېدو وروسته د پاکستان پر ضد درېږي.

ډېر هغه طالبان چې له ۲۰۰۱ز کال وروسته د پاکستان له لوري ځورېدلي، د پاکستان د گواښونو په اړه خبرې کوي. اسلاماباد له حقاني شبکې سره په بېله توگه اړیکې پالي، د کندهاري طالبانو له اړیکو پرته یې ښایي راتلونکي کې مخته هم یوسي، شونې ده چې دا ډله به د سولې خبرې هم رد کړي. د ۲۰۱۲ز کال په پای کې، کندهاري مخورو طالب مشرانو څرگنده کړه چې له القاعدې سره به اړیکې شکوي، افغانستان ته به د نړیوالو جهادیانو د ورتگ مخه ډب کوي. هغوی اوربند او په افغانستان کې د محدود شمېر امریکایي نظامیانو د پاتې کېدو لپاره تمایل څرگند کړ.

د طالبانو د حکومت پخواني دیپلومات ملا عبدالسلام ضعیف وایي چې د سولې لپاره رښتینو هڅو ته اړتیا ده. د ۲۰۱۲ز کال په ډسمبر کې یې، د پاریس په غیر رسمي غونډه کې گډون وکړ، په دې مجلس کې پر طالبانو سربېره د افغانستان د سولې عالي شورا استازو او طالب ضد ډلو هم گډون کړی و. له دې مجلس وروسته ضعیف ولیکل چې افغانان د سولې په تړاو پر ځینو اړینو ټکو له یو بل سره همغږي دي. د بېلگې په توگه؛ د جگړې پر ځای د سولې د هڅو زیاتوالی، د یوه پراخ او ټول شموله حکومت د جوړېدو د اړتیا احساس او د متحدو افغان امنیتي بنسټونو اصلاح او پیاوړتیا، نوموړي لیکلي وو چې افغانان په بشپړه توگه خپلواک نظام او نوی اساسي قانون غواړي. ضعیف زیاته کړې، ټول افغانان غواړي چې شریعت یې د هېواد قانون وي.

د شریعت پر پلي کېدو ټینگار په اصل کې د اختلاف ټکی دی. طالبان او نور افراطیان وایي چې د شریعت په اړه هېڅ ډول مذاکراتو ته غاړه نه ورکوي، چې حدود هم پکې شامل دي. ځینې نور بیا په دې اند دي چې له شریعت د تفسیر په برخه کې اختلاف دی. د افغانستان اساسي قانون وایي چې د هېواد هېڅ قانون له اسلامي شریعت سره مخالفت کې واقع کېدی نشي، خو دا قانون د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې او بشري حقونو نړیوال کنوانسیون د خوندیتوب تضمین کوي. طالبان اړ دي د اوسني اساسي قانون پر وړاندې د هغه شریعت چې په خپل اند یې پلي کېدل غواړي، باید کره او قانع کوونکې دلایل وړاندې کړي. هغوی اړ دي چې د بشري حقونو د قوانینو په اړه هم خلکو ته قناعت ورکړي. افغانان د ۱۹۹۰ز لسیزې حدودو پلي کېدل هېر نه دي، نو بیا به هغوی څه ډول دومره سختو قوانینو ته غاړه کېږدي.

د حامد کرزي اداره توانېدلې وه چې د افغانستان لپاره نړیوال ملاتړ خپل کړي. له واشنگټن سره امنیتي تړون د دواړو هېوادونو د ستراتیژیکو اوږدمهالو اړیکو بنسټ جوړوي. د دې اړیکو پر بنسټ به ثبات، سیمه ییزې همکارۍ او د گاونډیانو د لاسوهنو مخنیوي ته لاره اواره شي. کرزی او د افغانستان راتلونکي نور مشران باید له دې فرصتونو اساسي کار واخلي او دولت جوړونې ته باید لومړیتوب ورکړي. د افغانستان د امنیتي بنسټونو د اصلاح او پیاوړتیا لپاره هم کار اړین دی چې د ۲۰۱۲ز کال تر پایه د امنیتي ځواکونو شمېر ۳۵۰۰۰۰ ته رسېده. واشنگټن ژمنه کړې چې تر ۲۰۱۷ز کال پورې به د دې ځواکونو ملاتړ وکړي، خو افغان حکومت باید هڅه وکړي چې د خپلو امنیتي ځواکونو لپاره لا اوږدمهاله ملاتړ جذب کړي. دا ځواکونه د افغانستان راتلونکی جوړوي، هغوی د ملېشو په توگه نه بلکې د ملي امنیتي ځواکونو په توگه دنده ترسره کوي، باید له هر ډول سیاسي لاسونو لیرې پاتې شي. د افغان حکومت پر وړاندې تر ټولو لوی گواښ د ناټو له بشپړ وتلو وروسته د خپلې خاورې، امنیت ساتل دي. د ۲۰۱۴ز کال د اپرېل میاشتې ولسمشرۍ ټاکنې به د حکومت لپاره یو ازمایښت وي. د ۲۰۰۹ز کال په ولسمشرۍ ټاکنو او د ۲۰۱۰ز کال په پارلماني ټاکنو کې ډېری پښتانه د ناامنیو له کبله له رایې ورکونې پاتې شول. د ۲۰۱۴ز کال په ټاکنو کې باید ټولو افغانانو ته د رایه ورکولو اسانتیا برابره شي چې په پایله کې یې ملي یووالی پیاوړی کېږي. په سوله ییزه بڼه د واک انتقال به افغانانو ته د ښې راتلونکې یو بل فرصت برابر کړي.

**دوام لري...**

# قاسم سلیماني

شفیق امیرزی



قاسم سلیماني له ۱۹۹۸ ز کال راهیسې له ایرانه بهر د پټو عملیاتو څانگې یا قدس ځواکونو مشر او په کور او بهر د ایران تر ټولو مشهور جنگي قومندان و. د ایران مذهبي مشر ایت الله خامنه‌يي تېر کال نوموړي ته تر ټولو ستر پوځي نښان ذوالفقار ورکړ. خامنه‌يي قاسم سلیماني (ژوندی شهید) باله او تېر کال یې د نښان ور کولو پر مهال دوعا کړې وه، چې قاسم سلیماني دې ډېر کلونه وروسته شهید شي. د ایران مذهبي مشر اوس ویلي، چې سخت غچ به یې واخلي او زیاته کړې یې ده چې د قاسم سلیماني لار به دوام لري. له مرگ سره یې جوخت په ایران کې درې ورځې ملي ماتم اعلان شوی دی او سخت لاریونونه هم راوتلي دي.

قاسم سلیماني په ۱۳۳۵ لمریز کال کې د قنات ملک په یوه غرني کلي کې زیږېدلی دی. دغه کلی د کرمان په رابر سیمه کې پروت دی. هغه د معمارۍ پر کار بوخت و. د ځوانۍ په لومړیو کلونو کې یې د کرمان ښار د اوبو له څانگې سره کار پیل کړ. د ۱۳۵۷ لمریز کال تر انقلاب وروسته چې کله سپاه پاسداران جوړه شو، دی هم ورسره یو ځای شو. دی د افتخاري سپاه ډلې غړی و. د عراق او ایرن د جگړې په پیل کې یې یو ټولی جوړ کړی و، چې د کرمان رزمي کسان پکې راټول شوي وو، بیا له زرهي ټولي سره یو ځای شو چې دا ډله بیا بیا د ثارالله پر ۴۱ ډلې باندې بدله شوه. ده د دې ډلې د جوړېدو له پیله بیا تر ۱۳۷۶ لمریز کاله د سپاه په جگړو کې مهم رول درلود او هلته یې ځان ته مهم شهرت وگاټه.

په ۱۳٦۷ لمریز کال کې چې کله د عراق-ایران جگړه پای ته ورسېده، نو سلیماني هم بېرته کرمان ته راستون شو. دی هلته بیا د نشه یي توکو له قاچاق وړونکو سره پر جگړه بوخت شو. دغه جگړې تر ډېره په پولو او گوښه سیمو کې رامنځ ته کېدې. نوموړي د قدس ځواکونو د مشر په توگه تر ټاکل کېدو پورې دغه دنده مخ ته وړله. ایراني رسنۍ وایي چې سلیماني د سیمې په جگړو کې مهم رول درلود. هغه په لبنان کې حزب الله ډله پیاوړې کړه. د ایرانیانو په خبره، اسراییل یې پر شا وتمبول. د افغانستان په جگړه کې هم ښکېل و. د عراق په سیاسي فضا کې یې مهم رول درلود.

امریکایي رسنۍ وایي، له سورېې یا لبنان قاسم سلیماني بغداد ته تللی و چې هوایي ډگر کې یې پر موټر برید وشو. قدس ځواکونه د عراق او ایران د جگړې له لومړیو له ایرانه بهر عراق او لبنان کې د عملیاتو لپاره جوړ شول او وروسته د سپاه پر یوه مهمه برخه بدل شول، چې اوس ان د سپاه قدس په نوم هم یادېږي. ډېر نړیوال سیاسي او پوځي پوهان باوري دي چې قدس ځواکونه په سیمه کې د بدر ملېشو په گډون، عراق کې حشد الشعبي، د لبنان د حزب الله پوځي څانگې، غزه کې اسلامي جهاد یا حماس او یمن کې د حوثیانو نېغ پوځي ملاتړ کوي او روزي یې. ٦۳ کلن تورن جنرال قاسم سلیماني هم هغه مهال ډېر مشهور شو، چې په عراق، بیا سوریه او د منځني ختیځ په نورو هېوادونو کې د قدس ځواکونو رول په بهرنیو رسنیو کې راپورته شو.

په عراق کې د داعش پیدا کېدو او په سوریه کې د کورنۍ جگړې له پیلېدو سره قدس ځواکونه دې هېوادونو کې ډېر ښکېل شول او ان ایران خپله منلې چې قدس ځواکونو د سورېې په جگړه کې د بشارالاسد ته ژمنو ځواکونو لارښوونه او ملاتړ کړی او دلته یې زرگونه شیعه وسله وال تمویل کړي، همدارنگه یې په عراق کې د داعش د له منځه وړلو لپاره شیعه ملېشې سمبال کړې دي.

ملاتړو او مخالفانو یې د سیوري قومندان، نړیوال جنرال، د قومندان اروا، مرموز قومندان، د دښمن خپسکه، جنرال حاج قاسم او څو نور نومونه ور کړل. د ایران له اسلامي انقلاب راهیسې تر ټولو ستر نښان ذوالفقار یوازې سلیماني ته ور کړل شوی دی. سره له دې چې قاسم ډېر انځورونه نه خپرول، خو ځینې مهال یې د جگړې په کرښه کې انځورونه خپرېدل چې ان ځینې د عراق د شیعه ملېشو له مشرانو سره هم دي. د نوموړي په ستایلو کې په پارسي او عربي کې سندرې ویل شوې. نوم یې انیمېشن نړۍ او کمپیوټري لوبو ته هم رسېدلی؛ «د فارس خلیج جگړه» انیمېشن کې اتل دی چې د امریکایي بېړۍ د له منځه وړلو امر کوي. د ایران ډېرو مشهورو سیاسي او ټولنیزو شخصیتونو د قاسم سلیماني د انځورونو خپرولو یا ستایلو سره د نوموړي په لا مشهورتیا کې مرسته کړې ده.

نوموړی په سیمه کې د ایران د مذهبي مشر ایت الله خامنه‌يي قومندان بلل کېده او یوازې خامنه‌يي ته ځواب ویونکی و. د قاسم سلیماني پلویانو له سمونپالو او سمونغواړو نیولې تر ډېرو ځوانانو نوموړی ملي قهرمان باله، چې له ایرانه بهر یې د خپل هېواد د دفاع جبهې مشري کوله، څو ایران ارام وي. خو مخالفانو یې د سیمې په تېره عراق، یمن او سوریه کې د ډېرې بې ثباتۍ مسوول او د شیعه ملېشو اصلي ملاتړی باله چې د ټولې سیمې امنیت یې گواښمن کړی دی.

قاسم سلیماني د ۱۳۳٦ لمریز کال د کرمان ولایت رابر کلي کې وزیږېد. خپله لومړنۍ دنده یې د انقلاب په لومړیو میاشتو کې د کرمان ولایت د اوبو په اداره کې پیل کړه. وروسته د سپاه مامور شو، خپله یې ویل، یوازې د۱۵ ورځو لپاره له سپاه سره مامور شوی و، خو د جگړې تر جبهو ورسېد. د عراق او ایران د جگړې لومړیو کې یې د کرمان د جنگي ځواکونو کنډک جوړ کړ، چې وروسته پر زغره واله لېوا بدل شو او بیا پر ۴۱ ثارالله فرقه بدل شو. په ۱۳٦۱ لمریز کال کې د دې فرقې له جوړېدو تر ۱۳۷٦ لمریز کال پورې قدس ځواکونو ته تر تگ پورې د ثارالله مشر و، چې په جگړه او د سپاه ډېرو عملیاتو کې یې مهم رول درلود.

قاسم سلیماني په ایران کې یو وتلی نظامي و او تر ډېره امریکا ادعا کوي چې د دوی پر تاسیساتو او په سیمه کې پر امریکایي ځواکونو په بریدونو کې ښکېل دی او د ده په لارښوونه تر سره شوي. امریکا تازه ادعا کړې چې پر سلیماني تقریباً د څه باندې ٦۰۰ امریکایي عسکرو د وژل کېدو پړه ده. رسنۍ وایي چې بوش او اوباما د سلیماني د وژلو امر نه ورکاوه، خو ټرمپ دا کار وکړ. دغه راز دا راپورونه هم خپاره شوي چې سلیماني له امریکا سره د صدام حسین په وژلو او پیدا کولو کې مستقیمه همکاري لرله. د بهرنیو رسنیو راپورونه وایي چې سلیماني له امریکایي چارواکو او استخباراتو سره پر وخت، دقیق او هر اړخیز معلومات شریکول، څو دوی وکړی شي صدام حسین پیدا کړي. له همدې امله یې ځینې رسنۍ د امریکا پخوانی همکار بولي.

د قاسم سلیماني وژل کېدل د امریکا او ایران تر منځ زور کشمکش ته اشاره کوي. دغه پېښه ښایي په سیمه کې د پام وړ پایلې ولري او د پراخو ناندریو سبب شي، له همدې امله ځینې افغان سیاسیون د امریکا دغه کار د جگړې اوږدولو لپاره یوه پلمه بولي. ایران هم گواښ کړی چې خپل غچ به اخلي، نو واضح خبره ده چې سیمې ته کشمکشونه را روان دي. که دواړه له یو بل د غچ اخیستو پرېکړه کوي، نو په سیمه کې ناندرۍ پراخېږي او پر افغان سوله او جگړه مستقیم اغېز لرلی شي. رسنۍ پر دې باور دي چې د امریکا تگلاره د ایران او عراق په اړه په اوس وخت کې له جدي ازمېښت سره مخ ده. په منځني ختیځ کې د امریکا یو پخوانی څارونکی او د چارو همغږی کوونکی فلېپ گوردون وایي، د سلیماني وژل کېدو ایران او امریکا د جگړې کرښې ته رسولي دي.

مخکې مو هم وویل چې د قدس سپاه له ایرانه بهر عملیات تنظیمول، چې دې چارې د امریکا غوسه پارولې وه. سلیماني د تهران سیمه ییز متحدین پیاوړي کول او هغه ډلې د ده له مستقیم ملاتړه برخمنې وې، چې د امریکا ضد او یا هم د امریکا د متحدینو ضد فعالیتونه تر سره کوي. د امریکا له نظره سلیماني داسې کس و، چې لاس یې د امریکایي عسکرو پر وینو ککړ و. خو هغه په ایران کې یوه محبوبه څېره وه چې د ایران د گټو لپاره یې کار کاوه. ده ټول هغه اقدامات رهبري کول، چې د امریکا له بندیزونو او فشارونو د خلاصون لپاره طرحه کېدل او هڅه یې دا وه چې ایران له روان سخت وضعیت څخه بریالی راووځي.

امریکا پر دې باور ده چې ایران د دوی پر مرکزونو او اډو په توغندیزو بریدونو کې ښکېل دی. په دغو توغندیزو بریدونو کې چې څو ورځې مخکې په عراق کې وشول، د امریکا یو قراردادي ووژل شو. همدا راز په فارس خلیج کې هم ایران د تېلو د ټاکنرونو پر ضد هممهاله عملیات وکړل او څو لویې تېل وړونکې بېړۍ یې وگرځولې. همدا راز امریکا وایي چې ایران د سعودي عربستان یوه الوتکه وېشتلې او همدا راز د تېلو پر یوه ستر چاڼځای په برید کې ښکېل دی. د همدې ټولو پېښو په غبرگون کې امریکا په عراق کې پر هغو ملېشه وسله والو هوایي بریدونه وکړل، چې د ایران له ملاتړه برخمن دي. د دغو بریدونو په غبرگون کې په بغداد کې د امریکا پر ضد پراخ لاریونونه وشول او د دغه هېواد سفارت په امریکا کې محاصره کړل شو. امریکا ډېر ژر ۷۵۰ عسکر د خپلو ډیپلوماټانو د ساتلو لپاره هلته واستول.

له دې سره هممهاله د امریکا د دفاع وزارت وویل چې قاسم سلیماني نه یوازې پخوا د امریکایي ځواکونو پر ضد بریدونه کړي او پکې ښکېل دی، بلکې اوس په بغداد کې د روان وضعیت مستقیمه لارښوونه کوي. په همدې سره امریکایي پوځیانو او د دغه هېواد ولسمشر ډونالډ ټرمپ امر کړی، چې په بغداد کې هوایي ډگر ته څېرمه دې سلیماني په نښه کړل شي. ټرمپ د سلیماني وژل کېدل د جگړو د پای ته رسولو لپاره یوه هڅه بولي. د ده په خبره، سلیماني باید کلونه مخکې وژل شوی وی، خو اوس هم لا وخت دی او د دې لپاره ووژل شو چې جگړه پای ته ورسیږي. خو په سیمه کې رسنۍ او سیاسي فعالان بیا دا د یوې نوې جگړې پیل بولي. ځکه هغه په ایران کې یو مشهور شخصیت و او د دغه هېواد وگړو ورته درناوی درلود.

په سیمه کې هم دې پېښې غبرگونونه پارولي دي. د افغانستان ځینو سیاسیونو د امریکا دغه کار غندلی دی او هغه یې د جگړو د پیل او پراختیا لپاره یوه هڅه بللې ده، خو افغان حکومت بیا محتاطانه چلند کړی دی او وایي، هیله لري چې د ایران او امریکا تر منځ ټول کشمکشونه د خبرو له لارې حل شي. پاکستان هم د سولې او احتیاط غوښتنه کړې ده. سعودي عربستان پر دواړو لورو د زغم غږ کړی دی. روسیه بیا وایي چې امریکا د ټولو نړیوالو قوانینو خلاف عمل تر سره کړی دی او دوی په دې سختو شرایطو کې له ایران سره خپله همدردي څرگندوي. هندي رسنیو هم ویلي چې تر سلیماني بیا پاکستاني جنرالان ډېر د وژل کېدو مستحق دي، ځکه دوی کلونه په افغانستان کې جگړه مخ ته وړي، د ترهگرو ملاتړي دي، له دوی استفاده کوي او دغو ډلو ته د روزنې او تجهیز زمینه برابروي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,٦۰ |
| € | ۸۵,۸۰ |
| Rp. | ٤۷۸ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۰,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د ښې مېرمنې ځینې ځانګړنې

ژباړه: عبدالحنان آرمل

هیڅ انسان پوره نه دی، خو د یوې ښې ښځې موندل د هغې له نیمګړتیاوو سره سره، په دې مانا ده چې تاسو یو ښه او غوره شخص د ځان لپاره پیدا کړی دی.

د یوې ښې ښځې او مېرمنې د پېژندنې او تعریف لپاره هیڅ ډول دقیق معیار نشته. همدارنګه تر څوانۍ پورې چې کله تاسو کوم مناسبات له یوې ښځې سره پالی، ښایي تاسو دا تشخیص نه کړی چې دا ښځه به مو د ژوند شریکه و اوسي او که نه.

په هر صورت، تاسو به یو څه څرګندې او نازکې ځانګړنې (نښې نښانې) وګورئ او تاسو ته به څرګنده شي، چې ګوندې له دغې نجلۍ سره اوسېدل مو په ژوند کې غوره ټاکنه و اوسي. دلته ځینې ځانګړنې شته چې ښیي دغه یوه ښه ښځه او مېرمن ده.

دلته د یوې ښې ښځې او مېرمنې ځینې ځانګړنې درته ښیو

**هیڅ سړی نه شي بریالی کېدای پرته له دې چې تر شا یې یوه ښه ښځه نه وي. دا به مور یا مېرمن وي او که چېرې دواړې وي، بیا نو بې له شکه دا سړی دوه چنده بختور دی.**
**هیرُولډ میکملن**

**۱ـ** هغه تاسې ته زړه درکوي چې غوره شخص شی

یوه ښه ښځه او مېرمن تاسو ته مثبت ځواک او انرژي درکوي، څو تاسې د دې احساس وکړی چې تاسې د هر ډول کار د سر ته رسولو وړ او لایق یاستی. سره له دې چې مجبوره به هم نه وي او پر ځای یې له تاسې سره د موخو او خوبونو په لاس ته راوړلو کې مرسته کوي.

د شخصي اړیکو په ژورنال کې د یوې څېړنې پایلې ښیي، چې جوړې (مېره او ښځه) څنګه پخپله د شخص پر احساس اغېز کوي.

ظاهراً انسانان یو ذاتي خوی لري چې د خپل ځان د پرمختګ په نیت له نورو انسانانو سره اړیکې ټینګوي. دا نه یوازې ستاسو د ژوند د شریک د مثبتو ځانګړتیاوو د پېژندلو په اړه ده؛ بلکې دا ځانګړتیاوې هم په ځان کې رانغاړي.

د بېلګې په ډول، که چېرې تاسو له یوه سخې سړي سره تړاو لری، نو احتمالاً به له تاسو سره هم یو سخي سړی جوړېږي.

په سالمه او روغه اړیکه کې دوه نفره خوښ وي، ځکه چې د یو بل غوره خویونه او ځانګړتیاوې پر خپلو ځانونو باندې تطبیق او عملي کوي. یوه ښه ښځه او مېرمن پوهېږي چې څنګه منفي خویونه او ځانګړتیاوې مهمې ونه ګڼي او کم ارزښت ورکړي او په ځان کې د سمونې بهیر ګړندی او چټک کړي.

د څېړنو له نظره، ښه ښځه او مېرمن هغه ده چې له تاسو سره د یو بد عادت په ماتولو کې مرسته او کومک وکړي یا هغه څرنګوالی (کیفیتونه) چې د ژوند موخه نه وي، را ټیټ کړي.

**۲-** ښه ښځه او مېرمن ستاسو توپیرونه درک او پېژني

ښه ښځه او مېرمن به هېڅکله ځان له هغې موضوع او ستونزې څخه بهر نه کړي، کوم چې تاسو ورسره لاس او ګریوان یاست. هغه به د ځان په اړه وضاحت او سپیناوی وکړي، څو هر ډول ناسم پوهاوی څرګند شي. نور لا څه غواړی! هغه به هېڅکله خپل فکرونه او نظریې پر تاسو باندې تحمیل نه کړي.



هغه به درته ووایي چې په څه ډول منطقي فکر سره پر مخ ولاړ شی، خو د دې په تمه به هم نه وي چې تاسو دې تل ورسره موافق او همغږي و اوسی. ښه ښځه او مېرمن به همېشه ستاسو نظر ته احترام او درناوی ولري. هغه پوهېږي چې په یوه سالمه او روغه اړیکه کې خامخا یو ځای نه یو ځای د نظر توپیر موجود وي.

**۳-** ښه ښځه او مېرمن ستاسو ډېره مینه واله وي

کله چې د علاقې او مینې خبره کېږي، هغه کیدای شي له خپلې مینې سره برابره یا تر دې لوړه ستاسو غوره ملګرې و اوسي. هغه تل تاسو هڅوي چې خپلو موخو ته ورسېږی او هم به ستاسو لاسته راوړنې له نورو سره شریکوي. دا ډول نجونې ستاسو لپاره د ښه چانس په راتلو سره تر تاسو ډېرې خوشاله، په شور او ولولو کې وي. کله چې تاسو ترفیع کوی، یا په یوه برخه کې مهم پرمختګ لمانځی، نو هغه به ستاسو لپاره مېلمستیا برابره کړي.

په هر صورت، څنګه چې هغه ستاسو ډېره مینه واله ده؛ تر څنګ یې یوه هوښیاره کره کتونکې (نقاده) هم ده. که چېرې په رښتیا سره تاسو داسې یو څوک ولری، چې ستاسو د هوساینې په لټه کې وي، نو دغه څیزونه په اصولي ډول ممکن دي. ښه ښځه او مېرمن به د غلطیو د سمولو په خاطر تاسو ته رښتینی خبر درکړي، کوم چې اورېدل یې ځینې وخت ښایي خوږمن و اوسي.

په هر صورت، په یاد ولرئ چې هغه یوازې ټاکونکې ده، ځکه پوهېږي چې تاسو ځان سمولی او لا ښه کولی شی.

**۴-** ښه ښځه او مېرمن تاسو دې ته چمتو کوي چې ورسره د نیکمرغۍ احساس وکړی

د ښې ښځې او مېرمنې د مثبتې انرژۍ له امله تاسو احساسوی، چې یو میلیونر یاست، ځکه د ټولو نارینه وو له منځه یې تاسو انتخاب کړي یاست. د دې لپاره چې ښه ښځه او مېرمن غواړي ستاسو په څنګ کې و اوسي، نو ځینې وختونه به بیا تاسو خپل ځانونه په داسې یو حالت کې ومومی، چې هیڅ باور به مو ونه شي.

**۵-** ښه ښځه هغه ده چې نه یوازې له امله یې تاسو د نېکمرغۍ احساس کوی؛ بلکې تاسو ته په ژوند کې د یوه سوکاله مقام غوښتونکې هم ده.

حتی کله چې مو په منځ کې د مینې اړیکه مړاوې هم شي، تاسو به له ښې ښځې او مېرمنې سره د نېکمرغۍ احساس کوی؛ ځکه چې ډېرې اړیکې په پایله کې بېرته را ټوکېږي.

دا ځکه چې ښه ښځه او مېرمن له تاسو سره مرسته کوي چې پر مثبتو څیزونو باندې تمرکز او پام وکړی.

**٦-** ښه ښځه او مېرمن ستاسو پر اړیکو باندې بې باوره نه وي

ښه ښځه او مېرمن که چېرې ستاسو خبرې یا ښې اړیکې له کومې همکارې سره واوري او ووینې، نو په اسانۍ سره حسادت او حسد نه کوي. هغه ستاسو د ژوند ټولو اړخونو ته درناوی لري او په ګډه یې در سره پر مخ وړي.

**۷-** ښه ښځه او مېرمن د دې هڅه نه کوي چې تاسو له دې کار څخه لرې وساتي؛ بلکې په رښتینې توګه غواړي له تاسو سره یې شریک هم کړي

همداسې هغه بې له دې چې جنسیت په پام کې ونیسي، کوښښ کوي څو له هغو خلکو سره پېژندګلوي ولري، کوم چې تاسو ورسره په ټولنیز ډول اړیکې لری.

دا ډول ښځه د زړه له تله ستاسو په وفادارۍ او رښتینولۍ پوهېږي او په شریک ژوند کې هېڅکله پر تاسو خپل باور له لاسه نه ورکوي. ښه ښځه او مېرمن دومره ډارنه (ترس اور) نه وي، چې هرومرو باید ستاسو ګرځنده ټلیفون، برېښنالیکونه او د ټولنیزو رسنیو حسابونه وګوري.

**۸-** یوه ښځه او مېرمن به هغه څه سر ته ونه رسوي، چې په تاسو کې د کینې او کست احساس پیدا شي

**۹-** ښه ښځه او مېرمن داسې کوم شوم پلان نه لري او نه داسې څوک ده چې له تاسو سره یوازې په دې خاطر لوبه وکړي، چې موخه یې ستاسو د کینې او کست را پارول و اوسي.

هغه پوهېږي چې په رښتینو او صادقانه اړیکو کې هیڅ چلونه او د باور کمولو لوبې نشي ځایېدلی؛ ځکه هغه ستاسو په ژوند کې د خپل ځان په اړه ډاډه ده. هغه به ستاسو د پام را اړولو لپاره په ټګۍ برګۍ او چل ول لاس پورې نه کړي.

د ټولنیزو او شخصي اړیکو په ژورنال کې د یوې مطالعې له مخې، کست او حسد؛ په حقیقت کې په یوه اړیکه کې د خپګان او شخړې یو عام ښکاره ډول دی.

**۱۰-** یوه ښه ښځه او مېرمن به ستاسو احساساتي حالت تر هغه اداره او کنټرول نه کړي، څو چې له تاسو څخه غبرګون او عکس العمل ونه ویني

که چېرې هغه ستونزه ولري، له تاسو سره کېنې او خبرې درسره کوي.

**۱۱-** ښه ښځه او مېرمن خپلې موخې لري، خو ستاسو اړیکو ته د یو ټیم (ډلې) په څیر درناوی کوي

ستاسو پر ملاتړ او هڅونې سربېره، ښه ښځه او مېرمن په خپل ژوند کې موخې لري او پوهېږي چې د هغوی د لاسته راوړلو لپاره باید څه وکړي. د هغې ښه نفوذ او اغېز کولی شي تاسې هوښیار او متمرکز وساتي. ښځه تاسو ته ټیکاو در کوي او تاسو له هغې سره د یوه ټیم د غړي او شریک ژوند د ملګري په حیث ملتیا لری. تاسو کولی شی ننګونو ته په یو ځای حللارې ولټوی.

د کورنۍ تیورۍ او بیا څېړنې په ژورنال کې د یوې مطالعې له مخې، جوړه (خاوندو مېرمن) په اسانۍ سره کولی شي له انفرادي فکر څخه تیر شي، څو په پایله کې د یوه ټیم په توګه اوږدمهاله اړیکې ولري.

هغوی په ګډه خپله انرژي د هغو څیزونو په تر سره کولو مصرفوي، چې اړیکې یې نورې هم سمون وخوري؛ حتی که چېرې دوی فردي موخې او خوبونه هم ولري.

هغوی په مکرر ډول خپلې اړیکې تر بحث او ارزونې لاندې نیسي، چې دوی چېرې دي؟ چېرې ځي؟ او کومې ستونزې دي چې دوی یې باید حل و فصل کړي؟

**۱۲-** ښه ښځه او مېرمن تاسو ته وخت درکوي

ښه ښځه او مېرمن به نه تاسو په فکر کې ډوب کړي او نه به مو خپه کړي. هغه به ټول وخت پر تاسو باندې متکي (تکیه) وي. هغه تاسو ته د خپلو ګټو د تعقیب لپاره وخت درکوي. هغه تاسو ته اجازه درکوي چې په خپل ژوند کې نورو شیانو ته هم پاملرنه وکړی.

**۱۳-** ښه ښځه او مېرمن له دې سره مینه لري چې تاسو له خپلې کورنۍ سره وخت تېر کړی

**۱۴-** ښه ښځه او مېرمن چې کله تاسو ته وخت درکوي، له دې څخه اندیښنه نه لري چې تاسو به ورڅخه بېل او جلا شی په شریک ژوند کې یو له بل سره وخت تېرول مهم دي، خو البته ښه ښځه او مېرمن وایي، که د پرمختګ او ودې لپاره یو له بل څخه کاپې اجازه (د وخت ازادي) ولرو، کرار کرار به پر غوره خلکو باندې بدل شو. په داسې حال کې چې دغه تعادل ته د رسېدلو لپاره مناسب او بشپړ فورمول نشته.

**۱۵-** ښه ښځه او مېرمن د جسمي ګرانښت پر اهمیت پوهېږي

کله چې تاسو دواړه (خاوند او مېرمن) پر ورځنیو کارونو بوخت یاست او د ډېر اوږد وخت لپاره په دغه اړیکه کې یاست، نو له فزیکي ګرانښت څخه سترګې پټول اسانه دي، خو ښه ښځه او مېرمن پوهېږي چې د مناسباتو او اړیکو لپاره فزیکي ګرانښت ډېر مهم دی. هغه به د زړه راښکونکو شیانو د ساتنې لپاره وخت په وخت د یو نوي کار په ازمایلو سره هڅه او کوښښ وکړي.

د جنسي څېړنې په ژورنال کې د یوې مطالعې څرګنده کړې، چې په ښو او اوږدمهاله اړیکو کې خلک له یو بل څخه کم خواهش نه لري.

د دوی له بوخت ژوند سره سره، هغوی بیا هم مجذوب پاتې دي او په عاطفي ډول له یو بل سره ژور تړاو لري.

همدا راز هغوی په لفظي او غیر لفظي اړیکو کې ښه نظم لري.

ماهرین وایي، هغه جوړې (خاوند او مېرمن) چې یوه شپه د خوښۍ او ساعت تېرولو لپاره سره یو ځای شوي وي؛ په حقیقت کې ښایي دا یو غوره نظر و اوسي، څو د فزیکي ګرانښت لپاره مهالوېش جوړ کړي او هم د خوب په خونه کې د امید او جوش په رامنځ ته کولو کې ممکن مرسته او کومک وکړي. په دې توګه د لا سالمو اړیکو اړخ قوي کېږي.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ

if You Can Think It, We Can ink it.
غـوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com


سه شنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي ۱۷مه | د ۲۰۲۰ د جنوري اوومه | ۴۹۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۰ | ۹ | ۱۱ | ۸ | ۱۲ | ۸ |
| -۱۳ | -۳ | -۲ | -۲ | ۱ | -۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۲:۴۰ | ماښام ۰۴:۵۸ | ماخوستن ۰۶:۲۷

## نړۍ



# ټرمپ: که بغداد له خپلې خاورې امریکايي پوځیان وباسي، له سختو بندیزونو سره به مخ شي

۳

## ایران: له نړیوالو قدرتونو سره په اټومي هوکړه کې هېڅ محدودیت ته ژمن نه یو



ایران ویلي، له دې وروسته د نړۍ له قدرتونو سره په اټومي هوکړه کې هېڅ محدودیت ته ځان ژمن نه ګڼي .

د ایران حکومت دا اعلان وروسته له هغې وکړ چې د دغه هېواد د قدس ځواک قوماندان قاسم سلیماني د جمعې په ورځ بغداد ښار ته نږدې ووژل شو.

د ایران حکومت همدا راز ویلي چې تهران لا هم غواړي چې له خپلو اروپايي شریکانو سره، چې د ایران د تېلو د خرڅلاو لپاره د حللارې په موندلو کې پاتې راغلي دي، خبرې وکړي.

په اټومي هوکړه کې له خپلو ژمنو د لاس اخیستو تر خبرداري مخکې، یوه ایراني چارواکي ویلي چې د قاسم سلیماني د وژل کېدو له کبله ایران پر نویو تدابیرو غور کوي.

په ورته وخت کې د ایران د دغه اعلان په غبرګون کې د فرانسې، برېټانیا او جرمني په یوه ګډه اعلامیه کې ویل شوي، چې تهران باید له پاروونکو اقداماتو څخه ډډه وکړي.

دغو هېوادونو ویلي چې ایران باید د ۲۰۱۵ ز کال اټومي تړون ته ژمن پاتې شي او د روانو ستونزو په تړاو له دوی سره خبرو ته تیاری ونیسي. د یادونې ده چې د ایران او نړیوالو قدرتونو تر منځ د اټومي تړون پر سر وروسته له هغې اختلافونه راپیدا شول، چې ولسمشر ټرمپ تېر کال په یو اړخیزه توګه د امریکا د وتلو اعلان وکړ او بېرته یې پر دغه هېواد بندیزونه ولګول.

## سعودي عربستان: په سیمه کې د کړکېچ زیاتوالی د منلو نه دی




په منځني ختیځ کې د وروستیو کشمکشونو په دوام، سعودي عربستان ویلي چې په سیمه کې د کړکېچ زیاتوالی ورته د منلو نه دی.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر فیصل بن فرحان په ریاض کې خبریالانو ته ویلي، چې موږ نه غواړو چې په سیمه کې روان کړکېچ نور هم پراخ شي.

هغه ویلي چې که د ایران او امریکا وروستۍ لانجه د خبرو له لارې حل نه شي، ښايي ټولې نړۍ ته به یې زیان ورسېږي.

هغه دغه راز ویلي چې سعودي هیله لري چې ټول لوبغاړي به د روان وضعیت د کابو کولو لپاره له ډېر احتیاط څخه کار واخلي.

د سعودي عربستان دغه څرګندونې داسې مهال دي، چې په دې وروستیو کې د امریکا له خوا د ایران د سپاه پاسداران د قدس برخې د مشر قاسم سلیماني وژل کېدو په سیمه کې د تازه جګړو او نښتو د رامنځ ته کېدو ګوابن تر بل هر وخت زیات کړی دی.

پر سعودي سربېره، د نړۍ ډېریو هېوادونو په سیمه او په ځانګړې ډول په منځني ختیځ کې د وضعیت د کړکېچن کېدو په تړاو اندېښنې څرګندې کړې او له دواړو لورو څخه یې د پوره احتیاط او زغم غوښتنه کړې دي.

## والي فاریاب: شفاخانه میمنه به کشتارگاه اطفال مریض مبدل شده است



والی فاریاب، از وضعیت بد شفاخانهٔ میمنه و خدمات بی کیفیت صحی در این ولایت انتقاد نموده و می‌گوید که هشت ماه قبل، شفاخانه ۳۰۰ بستر در این شهر افتتاح شد؛ اما وزارت صحت عامه، با بهانه های مختلف آنرا با وسایل طبی تجهیز نمی کند.

نقیب الله فایق والی فاریاب، که از سرویس داخله اطفال در شفاخانه میمنه بازدید مینمود، به آژانس خبری پژواک گفته است که شکایت های پیهم مریضداران و مراجعه آنان به دفترش سبب شد که از سرویس اطفال بازدید نماید.

وی افزوده است که در شفاخانه میمنه، وضعیت بدتر از آن است که والدین اطفال برایش گفتند، اطفال مریض هر روز قربانی می‌شوند، در یک چپرکت ۲ تا ۳ کودک و در یک اتاق کوچک و نا پاک ۳۰ کودک بستر می‌باشد.


موصوف افزوده است: «چنین حالت در هیچ نقطهٔ دنیا و در حالات بد اضطرار دیده نشده، مدیریت لازم و دوای خوب وجود ندارد، در واقعیت امر شفاخانه به یك کشتارگاه اطفال مریض مبدل گردیده است».

وی گفته است که فاریاب با داشتن دو میلیون نفوس، یك شفاخانه ۱۰۰ بستر دارد، به دلیل حضور مخالفین مسلح در ولسوالی ها و عدم عرضه خدمات صحی درست، همه در شفاخانه ولایتی مراجعه می کنند، در میمنه شفاخانه خصوصی فعالیت نمی کند، وزارت صحت عامه با یك انجو قرارداد خدمات ۱۰۰ بستر را نموده؛ در حالیکه هم اکنون ۲۵۰ مریض در سرویس های مختلف بستر می‌باشند.

موصوف افزوده است: «وزارت صحت عامه هنوز مطالعه ندارد که شفاخانه ۱۰۰ بستر برای یك ولایت درجه اول و دارای دو میلیون نفوس، کافی نمی باشد؛ در وضعیت اضطرار قرار داریم، فرزندان فاریاب هر روز تلف می‌شوند».

## ژوند

## تر خپلې وسې د خلکو لاسنیوی وکړئ




له خلکو سره تر خپلې وسې مرسته وکړئ، څو له تاسو سره مرسته وشي. د خلکو لاسنیوی که په هره کچه وي، ښېل خوند لري. ملاتړ وکړئ، څو مو ملاتړ وشي. ستاینه وکړئ، څو وستایل شی. درناوی وکړئ، څو یې عکس العمل وګورئ. ډېره مینه وکړئ، څو در سره ډېره مینه وشي.

یو پیاوړی فکر: که تاسې هره ورځ د دې لامل شی چې پنځو کسانو ته مو خیر ورسېږي، د یو کال په اوږدو کې به د شاوخوا دوو زرو کسانو ژوند ته ارتقاع ورکړې او ژوند به یې بدل شي. دې کار ته دوام ورکړئ، له یوې لسیزې وروسته به وګورئ چې په مثبت ډول مو د شلو زرو کسانو پر ژوند خپل اغېز پرې اېښی دی. د هغو کسانو تعداد په پام کې ونیسئ چې اړیکې مو ورسره درلودې او په ژوند کې یې اغېزناک واقع شوی یاستی، نو دې پایلې ته رسېږئ چې «ستاسې ورځنی کوچنی او الهام بښونکی نېک کارونه» د ټول عمر لپاره له زرګونو کسانو سره د مرستې لامل شوي دي.

په حقیقت کې د رهبرۍ یوه مانا، خلکو ته خدمت کول دي. له نورو سره مرسته وکړئ، څو عظمت او لویوالي ته ورسېږئ، په بدل کې به هغوی له تاسې سره مرسته وکړي، په دې سر به دواړه مطلوبې پایلې ته ورسېږئ.

## ولې د ځینو کسانو ډېر ساړه کېږي؟



هر انسان له بل انسان څخه د یخنۍ د احساس په تړاو توپیر لري، که څه هم د سړو په پرتله د ښځو ډېر یخ کېږي، خو د اړوندې روغتیا برخې کارپوهان وایي، هغه انسان چې تل د یخنۍ احساس کوي، لاملونه یې ځینې ناروغۍ دي.

د وینې په جریان کې نیمګړتیا

د وینې جریان په بدن کې د حرارت د درجې منظمولو لپاره مهم رول لوبوي، کله چې د وینې جریان ګډوډ شي، انسان په پښو او لاسونو کې د یخنۍ ډېرېدو احساس کوي.

ډېر کله شکر ناروغي، د حدودي عصب د نیمګړتیا لامل ګرځي، د دې ناروغۍ نښې بې حسوالي او په پښو او لاسونو کې درد دی، دا چې زیانمن شوی عصب دماغ ته د بدن د حرارت د درجې استولو دنده لري، امکان لري د شکر ناروغي لرونکي کسان تل د یخنۍ احساس وکړي.

امکان شته چې لږ خوب هم په عصبي سیستم کې ډېرې ستونزې راوټوکوي او په دماغ کې د بدن د حرارت د درجې د ګډوډۍ لامل وګرځي. د فینلنډ جیفاسکیلا پوهنتون په یوه څېړنه کې څېړونکو شل ځوانان پوره ٦۰ ساعته له خوبه محروم وساتل، پایله یې دا شوه چې د بدن د حرارت درجه یې د خوب له کبله ټیټه شوه.